AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی
۲۰۲۴ / ۰۲ / ۰۴

# د حل لاره

که د رواياتو له مخې پر براق، اسمان ته د ختو لار وي
په کايناتو کې يوه برخه د شېدو لار وي
د اسيا او نړۍ تر منځ د وريښمو زړه لار وي
ويل کېږي، که غر لوړ دی پر سر يې لار وي
ملا وايي، په ښه عمل د صراط په پله د تېرېدو لار وي
متل وايي د يو زړه نه بل ته لار وي
که سيند ژور دی، په ګودر يې د پورې وتلو لار وي
که ژوند له خطرونو ډک دی، وايي د نجات لار وي
دا چې وايي، ستونزې ډېرې دي،
خو زه وايم هغو ته هم د حل لار وي!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځير و لولئ